In association with British Red Cross

# د کرونا وایروس (کووېډ-19) واکسین

## انګلستان، سکاټلنډ، وېلز

د کرونا وایروس (کووېډ-19) واکسین خوندي او اغېزمن دي. دا تاسو د کرونا وایروس پر وړاندې په ښه توګه خوندي ساتي.

نسخه 1 (په 03.03.2021 نېټه باندې اپډېټ شوې)

**Pashto | پښتو**

## محتوی


څوک کولای شي د کووېډ-19 واکسین ترلاسه کړي؟ ........ 2
د کووېډ-19 واکسین څنګه ترلاسه کېږي؟ ........ 3
د کووېډ-19 واکسین څومره خوندي دي؟ ........ 6
د کووېډ-19 واکسین څومره اغېزمن دي؟ ........ 6
د کووېډ-19 واکسینو جانبي عوارض ........ 7
الرژیکي غبرګونونه ........ 7
د کووېډ-19 واکسینو ترکیبات ........ 7
اضافي معلومات ........ 7


## واکسین ترلاسه کړي؟ 19څوک کولای شي د کووېډ-

د کووېډ- 19 واکسین په انګلستان، سکاټلنډ او ویلز کې د روغتیایي خدماتو د ملي اداري (NHS) له خوا ټولو لویانو ته ورکول کېږي، پرته له دې چې د هغوی د مهاجرت وضعیت په پام کې ونیول شي. په دې کې هغه خلک شامل دي چې عامه تمویل ته مخه نه کوي. د روغتیایي خدماتو ملي اداره (NHS) دمګړی د کووېډ-19 واکسین هغو خلکو ته ورکوي چې د کرونا وایروس د اختلالاتو له لوړ خطر سره مخ دي.

یاد واکسین په ځینو درملتونونو، د واکسینو په محلي مرکزونو کې چې د عمومي ډاکترانو (GPs) له خوا مخ ته وړل کېږي او د واکسینو په لویو مرکزونو کې ورکول کېږي.

د روغتیایي خدماتو ملي اداره (NHS) دغه واکسین خلکو ته د کلینیکي خطرونو له امله د هغوی د روغتیایي وضعیت او د عمر د ګروپ له مخې لومړی بوډا خلکو او بیا ځوانانو ته ورکوي. ځینې خلک تر نورو ډېر د کووېډ-19 له جدي خطر سره مخ دي.

یاد واکسین لاندې خلکو ته ورکول کېږي:

- هغه خلک چې عمرونه یې 55 کاله یا ډېر دي.
- هغه خلک چې د کرونا وایروس لوړ خطر سره مخ دي (چې اوږدمهاله ناروغی لري)
- هغه خلک چې د خپل اوسني روغتیایي وضعیت له امله د کووېډ-19 د اختلالاتو له لوړ خطر سره مخ دي ( لکه COPD، سالنډي، قلبي تکلیف، د پښتورګو یا ځیګر ناروغي، شکر او نورې اوږدمهاله روغتیایي ستونزې)
- هغه خلک چې د مراقبت په کورونو کې ژوند یا کار کوي
- د روغتیا او ټولنیز مراقبت کارمندان
- هغه خلک چې د زړه کړې اختلالات لري.
- هغه خلک چې د مراقبت د لګښت د مرستې لپاره مستحق دي.

د برتانیې حکومت په پام کې لري چې د جولای میاشتې تر پایه ټولو لویانو ته د واکسین لومړی دوز ورکړي.

**انګلستان:** د بوډا لویانو لپاره د کووېډ-19 د واکسینو په اړه ورروستي معلومات ولولئ

**سکاټلنډ:** د لویانو لپاره د کووېډ-19 د واکسینو په اړه ورروستي معلومات ولولئ

**ویلز:** د کووېډ-19 د واکسینو په اړه ورروستي معلومات ولولئ

## که تاسو تر اوسه په شرایطو پوره نه یاست

انتظار وکړئ چې تماس درسره ونیول شي. د روغتیایي خدماتو ملي اداره (NHS) په تاسو ته خبر درکړي چې کله ستاسو نوبت دی چې واکسین ترلاسه کړئ.

**انګلستان:** د کوویډ-19 واکسینو لپاره په شرایطو د پوره کېدو او د واکسینو د لوازمو په هکله وروستي معلومات ولولئ

## آیا دا واکسین د هر چا لپاره مناسب دي؟

هېڅ داسي ثبوت شتون نه لري چې کوویډ-19 واکسین د امېندوارو ښځو لپاره خوندي نه دي. لاکن مخکي له دې چې تاسو ته په منظم ډول واکسین درکړل شي، ډېرو شواهدو ته اړتیا ده.

د واکسینو او معافیت ګډې کمېټي خپلې تازه مشورې شریکې کړې دي چې تاسو ممکن وکولای شئ واکسین ترلاسه کړئ که چېرې تاسو امېندواره یاست او:

- په هغه ځای کې چې کار کوئ په کرونا وایروس باندې د اخته کېدو له لوړ خطر سره مخ یاست
- نورې ناروغۍ لرئ، په دې معنی چې تاسو د کرونا وایروس د جدي اختلالاتو له لوړ خطر سره مخ یاست

تاسو باید د واکسینو له تطبیق وروسته له امېندواره کېدو څخه ډډه ونکړئ. په واکسینو کې داسې کوم ژوندی وایروس شتون نه لري چې تاسو یا ستاسو ماشوم په کوویډ-19 باندې اخته کړي. هېڅ داسې شواهد شتون نه لري چې د کوویډ-19 واکسین به پر زېږون باندې اغېز ولري.

که تاسو شیدې ورکوئ، کولای شئ د کوویډ-19 واکسین وکړئ. مخکي له دې چې واکسین وکړئ د روغتیاپالني له متخصص سره خبرې وکړئ. هغه به تاسو ته د واکسینو د ګټو او خطرونو په هکله معلومات درکړي.

**انګلستان:** که تاسو امېندواره یاست، امېندواره کېږئ یا شیدې ورکوئ، نو د کوویډ-19 د واکسینو تازه مشورې ولولئ

**سکاټلنډ:** که تاسو امېندواره یاست، امېندواره کېږئ یا شیدې ورکوئ، نو د کوویډ-19 د واکسینو تازه مشورې ولولئ

**ویلز:** که تاسو امېندواره یاست، امېندواره کېږئ یا شیدې ورکوئ، نو د کوویډ-19 د واکسینو تازه مشورې ولولئ

که تاسو د همدې واکسینو د لومړي دوز یا په واکسینو کې د هر ډول ترکیبي موادو پر وړاندې د (انافیلاکسي په شمول) حساسیت ښودلی وي، تاسو باید د کوویډ-19 واکسین ونکړئ.

هغو خلکو ته چې د بدن کمزوری معافیت یا د HIV انتان لري (پرته له دې چې د CD4 شمېر په پام کې ونیول شي)، باید واکسین ورکړل شي.

هغه خلک چې وینه یې لخته ده یا د خونریزۍ اختلالات لري لا هم کولای شي واکسین ترلاسه کړي، اما باید د خپل مراقبت له چمتو کوونکي سره مشوره وکړي ترڅو ډاډ حاصل کړي چې واکسین یې د درملنې په مناسب وخت کې ترلاسه کړي دي.

## واکسین څنګه ورکول کېږي؟ 19د کوویډ-

د کوویډ-19 ټول واکسین د پیچکارۍ له طریقه ستاسو په مټ کې درکول کېږي. دغه واکسین په دوو دوزونو کې ورکول کېږي. دویم دوز به تاسو ته له لومړي دوزه درې تر 12 اونۍ وروسته درکول کېږي .

کله چې تاسو ته لومړنی واکسین ترلاسه کوئ تاسو ته به یو کوچنی کارت درکول کېږي چې د واکسینو اړوند معلومات وربانديې درج شوي دي. تاسو باید دغه کارت خوندي وساتئ. که تاسو د خپلو واکسینو دویم دوز د واکسینو په بل مرکز کې ترلاسه کوئ، دغه کارت به هغوی یقیني کړي چې تاسو سم ډول واکسین ترلاسه کوئ.

## واکسین څنګه ترلاسه کېږي؟19د کوویډ-

د کوویډ- 19 واکسین په برتانیه کې د روغتیاي خدماتو د ملي ادارې (NHS) له خوا ټولو لویانو ته ورکول کېږي، پرته له دې چې د هغوی د مهاجرت وضعیت په پام کې ونیول شي.

که تاسو له عمومي ډاکټر سره ثبت یاست، نو دا به ستاسو لپاره آسانه وي چې واکسین ترلاسه کړئ. او دا به یقیني شي چې تاسو د NHS ځانګړې شمېره لرئ او کله چې (د کلینیکي وضعیت او عمر په اساس) په شرایطو پوره شئ کولای شئ د واکسینو د ترلاسه کولو د ملاقات وخت واخلئ. له عمومي ډاکټر سره ځان ثبتول په دې مانا دي چې تاسو کولای شئ نور روغتیایي او د مراقبت خدمات هم ترلاسه کړئ.

عمومي ډاکټر فامیلي طبي ډاکټر دی. په انګلستان، سکاټلنډ او ویلز کې هرڅوک کولای شي له عمومي ډاکټر سره ځان ثبت کړي او په وړیا توګه د پالنې اساسي خدمات ترلاسه کړي، پرته له دې چې د هغوی د مهاجرت وضعیت په پام کې ونیول شي.

که تاسو دمګړۍ له عمومي ډاکټر سره ثبت نه یاست، تاسو باید د ځان لپاره محلي عمومي ډاکټر پیدا کړئ او همدا اوس ځان ورسره ثبت کړئ، حتی که د واکسینو لپاره په شرایطو پوره هم نه یاست. تاسو کولای شئ د انګلستان، سکاټلنډ یا ویلز لپاره د روغتیایي خدماتو د ملي اداري (NHS) د ویب پاڼې په مرسته د ځان لپاره په نږدې سیمه کې عمومي ډاکټر ومومئ، یا کولای شئ محلي عمومي ډاکټر ته تلفون وکړئ او ترې وغواړئ چې ځان ورسره ثبت کړئ.

عمومي ډاکټران یوازې هغه خلک له ځان سره ثبتوي چې د دوی په محلي سیمه کې ژوند کوي. که تاسو د عمومي ډاکټر د سرجرۍ له سیمې څخه د باندې ژوند کوئ، تاسو باید ځان ته نږدې په خپله سیمه کې بل عمومي ډاکټر ومومئ.

تاسو له عمومي داکټر سره د ځان ثبتولو لپاره یوه فورمه باید ډکه کړئ. تاسو کولای شئ د عمومي ډاکټر د سرجرۍ ویب پاڼه وګورئ که غواړئ پوه شئ چې آیا کولای شئ ځان په آنلاین ډول ثبت کړئ کنه. تاسو باید وغواړئ چې ځان د دایمي ناروغ په توګه (نه د مؤقت ناروغ په توګه) ثبتوئ. تاسو کولای شئ د اړتیا په صورت کې د فورمې د ډکولو لپاره له عمومي ډاکټر څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.

## آیا زه له عمومي ډاکټر سره د ځان د ثبتولو لپاره اسنادو ته اړتیا لرم؟

ځینې سرجرۍ ممکن ستاسو د نوملیکنې لپاره له تاسو څخه ځینې اسناد وغواړي، لکه د آدرس د تثبیت اسناد، د هویت د تثبیت اسناد، د مهاجرت وضعیت د تثبیت اسناد یا د روغتیایي خدماتو د ملي اداري (NHS) ځانګړې شمېره، اما که چیرې تاسو دغه اسناد ونه لرئ هغوی باید ستاسو له ثبتولو څخه انکار ونکړي.

که تاسو نشئ کولای دغه اسناد چمتو کړئ، باید هغوی ته وواياست چې تاسو دغه اسناد نلرئ اما تاسو د هغوی د فعالیت په ساحه کې ژوند کوئ او غواړئ د یوه ناروغ په توګه ځان له عمومي ډاکټر سره ثبت کړئ.

که تاسو له عمومي ډاکټر سره د ځان ثبتولو پر مهال له ستونزو سره مخ کېږئ، لاندې منابع ممکن له تاسو سره مرسته وکړي. که تاسو غواړئ ځان په آنلاین ډول ثبت کړئ او د اسنادو غوښتنه درڅخه شوې ده، تاسو باید دغه منابع د بریښنالیک له لارې د عمومي ډاکټر سرجرۍ ته واستوئ:

- د انګلستان د روغتیايي خدماتو ملي اداري (NHS) له هغو خلکو سره د مرستې په خاطر ژېړ کارتونه جوړ کړي چې اسناد نه لري او غواړي ځان په انګلستان کې له عمومي ډاکټر سره ثبت کړي. کله چې تاسو د نوملیکنې لپاره ځئ، نو دغه کارت به د عمومي ډاکټر د پذیرش مسئول ته ښیئ. تاسو کولای شئ دغه ژېړ کارت له محلي خیریه بنسټونو، د خوړو له بانکونو، له خپل محلي Healthwatch یا له Doctors of the World څخه ترلاسه کړئ.
- سکاټلنډي حکومت په سکاټلنډ کې عمومي ډاکټرانو ته لاندې لارښووني کړې دي: له عمومي ډاکټر سره د ځان ثبتولو لپاره هېڅ ډول اسنادو ته اړتیا نشته. د ناروغ له خوا د هویت یا آدرس د تثبیت لپاره د اسنادو نه چمتو کول مناسب دلیل نه ګڼل کېږي چې د ناروغ د نوملیکنې د ځنډ یا رد سبب دې وګرځي.
- د برتانیې د طبي ټولنې لارښووني د انګلستان، سکاټلنډ، ویلز او شمالي آیرلنډ لپاره داسې لارښووني لري: که ناروغ ونشي کولای د هویت د تثبت اسناد وړاندې کړي، دا مناسب دلیل نه کېږي چې د ناروغانو د نوملیکنې د ځنډ یا رد سبب دې وګرځي.

که عمومي ډاکټر ستاسو له نوملیکنې څخه انکار وکړي، د انګلستان ناروغان کولای شي 0300 311 2233 شمېرې ته زنګ ووهي. د سکاټلنډ او ویلز ناروغان باید د محلي روغتیا له خپل هیئت سره په اړیکه کې شي. ناروغان همدارنګه کولای شي له عمومي ډاکټر سره د نوملیکنې په خاطر د مرستې لپاره له Doctors of the World سره په 0808 1647 686 (وړیا تلفوني شمېره) په اړیکه کې شي.

## که تاسو بې کوره یاست

که تاسو ثابت آدرس نلرئ، کولای شئ له عمومي ډاکټر سره ځان ثبت کړئ. تاسو باید عمومي ډاکټر ته دا څرګنده کړئ چې تاسو ثابت آدرس نلرئ اما تاسو په هماغه محلي سیمه کې ژوند کوئ او غواړئ چې ځان د ناروغ په توګه ثبت کړئ. تاسو کولای شئ له مؤقتي آدرس څخه استفاده وکړئ چې ممکن ستاسو د ملګري یا د ورځنې مراقبت د مرکز آدرس وي، یا دا چې د عمومي ډاکټر مسئول کس تاسو له آدرس پرته ثبت کړي.

تاسو باید یقین حاصل کړئ چې عمومي ډاکټر کولای شي د اړتیا په صورت کې د تلفون له لارې له تاسو سره په اړیکه کې شي (د بېلګې په توګه، د آزموینې د پایلو لپاره).

## که تاسو د پناه غوښتنې لپاره په هستوګنه کې اوسېږئ

که تاسو پناه غوښتونکی یاست او د هوم آفېس په هستوګنه یا مؤقتي هستوګنه، لکه هوټل کې اوسېږئ، تاسو باید له عمومي ډاکټر سره د ځان ثبتولو پر مهال د همدغه هستوګنې له آدرس څخه استفاده وکړئ او باید دا ورته څرګنده کړئ چې تاسو د آدرس د تثبیت لپاره اسناد نلرئ ځکه چې تاسو د پناه غوښتنې په هستوګنه کې ژوند کوئ چې د هوم آفېس له خوا درته چمتو شوې ده. که عمومي ډاکټر ستاسو له نوملیکنې څخه انکار وکړي، تاسو باید د خپلې هستوګنې له چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ یا د مهاجرینو د مرستې دفتر ته په 503 8010 0808 وړیا تلفوني شمېره باندې زنګ ووهئ.

که تاسو ته څرګنده شوه چې هوم آفېس غواړي تاسو نوې هستوګنې ته انتقال کړي، تاسو باید خپل د کوویډ-19 واکسین تر هغې ونه ځنډوئ چې تاسو هلته انتقال شئ. تاسو کولای شئ د واکسینو دویم دوز خپلې نوې هستوګنې ته نږدې د واکسینو له مرکز څخه ترلاسه کړئ.

تاسو باید هغه کوچنی کارت چې د واکسینو په لومړي ملاقات کې درکړل شوی دی خوندي وساتئ او د خپل دویم ملاقات لپاره یې له ځان سره یوسئ ترڅو د واکسینو مرکز یقین حاصل کړي چې تاسو سم ډول واکسین ترلاسه کوئ.

## د واکسینو د ملاقات لپاره وخت اخیستل

### انګلستان

که هر یو له لاندینیو مواردو څخه ستاسو په هکله صدق کوي، تاسو کولا شئ په آنلاین ډول د خپلو واکسینو د ملاقاتونو لپاره وخت واخلئ:

- تاسو 55 کاله یا ډېر عمر لرئ.
- د کرونا وایروس له لوړ خطر سره مخ یاست (هغه خلک چې اوږدمهاله ناروغۍ لري)
- تاسو د خپل اوسني روغتیایي وضعیت له امله د کوویډ-19 د اختلالاتو له لوړ خطر سره مخ یاست ( لکه COPD، سالنډي، قلبي تکلیف، د پښتورګو یا ځیګر ناروغي، شکر او نورې اوږدمهاله روغتیایي ستونزې)
- تاسو په شرایطو باندې پوره د روغتیا د لومړۍ کرښې کارمند یاست
- د روغتیا او ټولنیز مراقبت کارمندان
- تاسو د زده کړې اختلالات لرئ
- تاسو د مراقبت کوونکي د لګښت د مرستې لپاره مستحق یاست

تاسو کولای شئ د واکسینو په لویو مرکزونو یا هغو درملتونونو کې د ملاقات وخت واخلئ چې د کوویډ-19 واکسین وړاندې کوي. تاسو باید د روغتیایي خدماتو د ملي ادارې (NHS) له خوا تماس ته په تمه پاتې نشئ.

تاسو کولای شئ خپل د کوویډ-19 واکسینو د ملاقات وخت په آنلاین ډول واخلئ.

### سکاټلنډ

تاسو به د خپل ملاقات د توضیحاتو په خاطر بلنلیک یا تلفوني تماس ترلاسه کړئ. که تاسو غواړئ د ملاقات لپاره حاضر شئ، تاسو هېڅ کار ته اړتیا نلرئ چې دا تصدیق کړئ په ملاقات کې برخه اخلئ. که نشئ کولای ملاقات ترسره کړئ، تاسو کولای شئ د خپل ملاقات وخت بدل یا لغوه کړئ نو ستاسو د ملاقات وخت کېدی شي بل چا ته ځانګړی شي.

### ویلز

کله چې تاسو ته نوبت رسېږي چې باید واکسین ترلاسه کړئ، له تاسو سره به په مستقیم ډول د روغتیایي خدماتو د ملي ادارې (NHS) له خوا تماس ونیول شي. تماس کېدی شي د تلفون یا لیک له لارې ونیول شي.

## آیا زما په هکله به هوم آفېس ته راپور ورکول کېږي که چېرې واکسین ترلاسه کړم؟

کله چې تاسو د روغتیایي خدماتو د ملي ادارې (NHS) له خوا کوم خدمت ترلاسه کوئ چې د هر چا لپاره د هغوی د مهاجرت د وضعیت په نه پام کې نیولو سره وړیا دی، ستاسو اړوند معلومات به د هوم آفیس د مهاجرت له څانګې سره نه شریکیږي. په دې کې د عمومي ډاکټر خدمات، د کوویډ-19 آزموینه، درملنه او د واکسینو اړوند خدمات شامل دي.

کله چې تاسو له عمومي ډاکټر سره نوملیکنه کوئ یا د کوویډ-19 د واکسینو لپاره لپاره وخت اخلئ، له تاسو څخه باید ادا غوښتنه ونشي چې خپل د مهاجرت وضعیت تثبیت کړئ.

[د روغتیایي خدماتو د ملي ادارې (NHS) ځینې روغتیایي او ټولنیز خدمات] چې د آزموینې، درملنې یا د کرونا وایروس لپاره د واکسینو اړوند نه کیږي د هغو خلکو لپاره وړیا نه دي چې د مهاجرت منظم وضعیت نه لري. دغه خدمات ممکن ستاسو په هکله ځینې معلومات، لکه نوم، پته او د زیږیدنې نیټه د هوم آفیس د مهاجرت له څانګې سره شریک کړي. دا په دې خاطر چې ستاسو د مهاجرت اوسنی وضعیت تثبیت شي یا د روغتیاپالنې د نه تادیه شوو لګښتونو په هکله راپور ورکړي. ستاسو د روغتیا په هکله به معلومات له چا سره نه شریکیږي.

په داسې شرایطو کې چې د افرادو یا خلکو لپاره د خوندیتوب اندیښنې موجودې وي، د روغتیایي خدماتو له ملي ادارې (NHS) څخه ممکن غوښتنه وشي چې د نارغ په هکله معلومات له پولیسو، محاکمو یا حکومتي ادارو سره شریک شي.

## د کوویډ-19 واکسین څومره خوندي دي؟

په برتانیه کې د استفادې لپاره تولو تایید شوو واکسینو د خوندیتوب، کیفیت او مؤثریت ټول هغه سخت معیارونه پوره کړي دي چې د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم د څیلواکي ادارې (MHRA) له خوا وضع شوي دي.

د کرونا وایروس ټول تائید شوي واکسین باید ټول هغه آزمېښتي پړاوونه او د خوندیتوب مراحل طی کړي چې نور مجوز درمل یې طی کوي. د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم خپلواکه اداره (MHRA) د خوندیتوب ټول نړیوال معیارونه تعقیبوي.

ټول واکسین د نړۍ په کچه له 15,000 څخه تر 50,000 خلکو باندې آزمویل شوي دي. یاد واکسین د مختلفو نژادونو په ښځینه وو او نارینه وو باندې چې عمرونه یې د 18 او 84 کلونو ترمنځ دي، آزمویل شوي دي. څېړنې به حتی د واکسینو د وېش په جریان کې دوام ولري ترڅو څرګنده شي چې یاد واکسین د ناروغۍ د مخنیوي او نورو ته د وایروس د انتقال د مخنیوي لپاره او همدارنګه د ماشومانو د استفادې لپاره څومره اغېزمن دي.

تر دې مهاله، ملیونونو خلکو ته د کوویډ-19 واکسین ورکړل شوي دي او د حساسیت په شان د جدي جانبي عوارضو په هکله ډېر لږ راپور ورکړل شوی دی. د هېڅ ډول اوږدمهاله اختلالاتو په هکله راپور نه دی ورکړل شوی.

په برتانیه کې د تایید شوو واکسینو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره لاندې لینکونه وګورئ:

- [GOV.UK: Pfizer/BioNTech vaccine for COVID-19 approved by MHRA (English only)]
- [GOV.UK: Oxford/AstraZeneca vaccine for COVID-19 approved by MHRA (English only)]
- [GOV.UK: Moderna vaccine for COVID-19 approved by MHRA (English only)]

## د کوویډ-19 واکسین څومره اغېزمن دي؟

د کوویډ-19 د هر ډول واکسینو لومړی دوز باید تاسو په ښه توګه له کرونا وایروس څخه خوندي وساتي. اما تاسو باید د واکسینو دوه دوزه ترلاسه کړئ ترڅو د اوږدې مودې لپاره خوندي وئ. د دې چانس هم شته چې تاسو له واکسینو وروسته په کرونا وایروس باندې اخته شئ یا یې بل چا ته انتقال کړئ. دا په دې مانا ده چې د لاندې موارډو په پام کې نیول مهم دي:

- [د ټولنیز واټن لارښوونې] لا هم باید مراعات شي
- په داسې ځایونو کې چې له نورو څخه لرې والی سخت وي، د امکان په صورت کې داسې څه واغوندئ چې ستاسو خوله او پوزه وپوښي.

## د کووېډ-19 واکسینو جانبي عوارض

د کووېډ-19 واکسینو اکثره جانبي عوارض ملایم دي او باید له 2 یا 3 ورځو څخه ډېر دوام ونکړي، چې په لاندې ډول دي:

- د مټ د هغې برخې زخمي کېدل چې ستنه پکې لګېدلې ده.
- د ستړیا احساس
- د سر درد
- د درد احساس لرل
- د ناجوړۍ احساس لرل
- حرارت یا تبه

تاسو کولای شئ د اړتیا په صورت کې د پراستامول په شان له درد وژونکو درملو څخه استفاده وکړئ.

که د بدن د حرارت درجه مو له 48 ساعتونو څخه د ډېري مودې لپاره لوړه وي تاسو ممکن کرونا وایروس یا بله ناروغي ولرئ. توخی او د بوی او ذایقې د حس له لاسه ورکول د واکسینو جانبي عوارض نه دي، نو که چېري په تاسو کې دغه نښې څرګندېږي، باید په آنلاین ډول د کرونا وایروس د آزموینې ترتیبات ونیسئ.

که مو نښې جدي کېږي، له 48 ساعتونو څخه د ډېري مودې لپاره دوام مومي یا تاسو ته اندېښنه پیدا کېږي، خپل عمومي ډاکټر ته د سهار له 8 بجو د مازدیګر تر 6.30 بجو پورې یا په نورو وختونو کې د 111 شمېرې له لارې ( چې وړیا شمېره ده) زنګ ووهئ. تاسو ټولو پوښتنو ته په دوامدار ډول په **"Yes"** سره په ځواب ویلو سره کولای شئ په خپله ژبه د ځان لپاره ترجمان ومومئ

## الرژیکي غبرګونونه

که تاسو کله په ژوند کې جدي الرژیکي غبرګون لرلی وي، نو مخکې له دې چې واکسین وکړئ د روغتیاپالنې کارمندانو ته وواياست. که تاسو کله هم د لاندې موراد‌و په مقابل کې الرژیکي غبرګون ښودلی وي، نو د کووېډ-19 واکسین مه کوئ:

- د ورته واکسینو د مخکینې دوز په غبرګون کې
- په واکسینو کې د هر ډول ترکیبي مادې په غبرګون کې

جدي الرژیکي غبرګون ډېر لږ څرګندېږي. که تاسو د واکسینو پر وړاندې غبرګون ښیئ، دا معمولاً یوازې په یو څو دقیقو کې څرګندېږي. د واکسینو په مرکزونو کې کارمندانو او داوطلبانو ته روزنه ورکړل شوې ترڅو د الرژیکو غبرګونونو پر وړاندې غبرګون وښيي او په سملاسي توګه یې درملنه وکړي.

تاسو د کرونا وایروس د خوندیتوب برنامې له ژېړ کارت څخه په استفادې سره کولای شئ د هر ډول مشکوکو جانبي عوارضو په هکله راپور ورکړئ.

## د کووېډ-19 واکسینو ترکیبات

د کووېډ-19 په تائید شوو واکسینو کې هېڅ ډول حیواني محصول یا هګۍ شتون نه لري.

د برتانیې اسلامي طبي شورا د واکسینو د استفادې سپارښتنه کوي. د کاتولیک کلیسا څرګنده کړې چې د کووېډ-19 له واکسینو څخه استفاده معمولاً د منلو وړ ده.

## اضافي معلومات

Doctors of the World: کلینیک او د کووېډ-19 ژباړل شوي معلومات

د برتانيې سره مياشت: د کوویډ-19 واکسین: هغه څه چې تاسو باید ورباندې پوه شئ

د انګلستان د روغتيايي خدماتو ملي اداره (NHS): د کرونا وایروس (کوویډ-19) واکسین

د روغتيايي خماتو د ملي اداري (NHS) معلوماتي خدمات: د کرنا وایروس (کوویډ-19) واکسین

د ویلز عامه روغتیا: د کوویډ-19 د واکسینو معلومات